

د دیستنه زن

جوړونکي: قریشی صاحب

یادونه: د یاد کتاب اکثره معلومات د ﴿شرط الصلوة﴾ کتاب څخه ژباړل سوي او د dawat610.com څخه نکل شوی دي.





[ځانګړنې]

کتاب نوم : د دین ستنه

لیکوال : مصطفی قریشی

د اړیکي شمیره : 0700694989

خپرندوی : هاشمی قرطاسیه

د چاپ شمیر : 100 ټوکه

د چاپ کال : ۱۴۰۵ هجري لمریز

هاشمی قرطاسیه میرویس مینه ایکلینګ سړک کندهار افغانستان.

ګرځنده شمیري؛ 0704635296 - 0702975480

د چاپ ټول حقوق له خپرندوی ټولنې سره خوندي دي.

لړليک (فهرست)

	موضوعات	د صفحی شمیره
1	د لمانځه تعريف	1
2	د لمانځه احکام	2
3	د لمانځه خارجي فرضونه (شرطونه)	3
4	د لمانځه داخلي فرضونه (رکنونه)	4
5	د لمانځه واجبات	4
6	د لمانځه سنتونه	5
7	د لمانځه مستحبات	6
8	د لمانځه مکروهات	7
9	د لمانځه مفاسدات	8
10	مسجد ته د ننوتلو دعاء	9
12	مسجد څخه د راوتلو دعاء	9
14	د اذان دعاء	9
15	د لمانځه د قضا کولو حکم	10
16	د نارینه او ښځي د لمانځه توپیر	12
17	د لمانځه مکروه وختونه	14
18	هغه ځایونه چې لمونځ کول پکښې ...	15
19	په لمانځه کې خشوع (عاجزي) کول	16

لړليک (فهرست)

	موضوعات	د صفحې شمیره
20	د صلاة التسبيح لمونځ	18
21	د لمانځه د قضا کولو حکم	20
22	د ټوله لمانځه ژباړه	22
23	په لمانځه کي ځيني عامې غلطي	26
24	سجدة السهوه (د سهوي سجده)	31
25	د جومات ادبونه	33
26	د قضايي لمانځه کفاره څه ده	35
27	د قضايي لمانځه نيت	36
28	ماخذونه	37

سریزه

محترم لوستونکی؛

لکه څنګه چې موږ او تاسو ټولو ته دا معلومه او په ښکاره ډول را څرګنده ده چې افغانستان یو اسلامي هېواد او یوه اسلامي ټولنه ده او د افغانستان 99.6% فیصده خلګ مسلمانان دي ، خو دا خبره هم باید ومنو چې په دي 99.6% فیصده خلګو کي د 50% خلګو په پوره شکل او پر شریعت برابر د اسلام دویمه بناء چې لمونځ دي ندي زده!

ددي لپاره چې د دین په ستنه وپوهیږو ، د دین د ستني په احکامو پوه سو نو باید یاده مجله لومړي په پوره شکل په ذهن کي یاد وساتو او وروسته نور مؤمنان ځیني باخبره کړو.

نو د همدي لپاره ما په خپل زیار او پوره کوښښ سره د افغانستان د پښتو ژبې پرمختللي لهجي چې کندهاری لهجه ده ، یاده مجله مي د شرط الصلوة څخه وه پښتو ته ژباړلي ده. زه پوره باوري او هیله مند یم چې دا څو د کاغذ پانې به ستاسو د همدي دنیا کامیابې او د اخروي ژوند لپاره به مو یو لویه او نه بیځایه کیدونکي سرمایه وګرځي.

په درنښت: قریشي صاحب

د لمانځه تعریف

لمونځ د اللّٰه تعالی هغه عبادت ته ویل کیږي چې پر هر مؤمن مسلمان (نارینه او ښځینه) باندې پنځه وخته د اللّٰه تعالی له طرفه پر فرض کړل شوي دي.

لمونځ د اسلام دویمه بناء ده ، چې مور او تاسو ټوله وه یوه اللّٰه ته چې د هغه کور قبله(کعبه شریفه) ده د هغه وه لوري ته عبادت کوو.

لمونځ د شیطان پر وړاندې جګړه ده ، لمونځ د ټولو عبادتونو سر دي ، لمونځ د خلاصون لاره ده او لمونځ د جنت کیلي ده.

حضرت محمد ﷺ وفرمایل: ایا کچیري یو کس د ورځې پنځه وخته په یو ویاله کې په اوبو باندې ولمبیږي ، نو ایا دده پر بدن به کومه خیره پاته شی؟ اصحابو کرامو وویل: یا رسول الله بیشکه چې د هغه پر بدن به هیڅ خیره پاته نشی. نو رسول الله ﷺ وفرمایل: لمونځ هم ددغه په شان دي ، کچیري یو څوک خپل پنځه وخته لمونځونه په خپل وخت ادا کړي نو ټولې هغه ګناوې به یې توي شی کوم چې ده په همدې ورځ کې کړي وي.

مور او تاسو باید همیشه خپل فرضي لمونځ په جماعت سره ادا کړو ، ځکه د جماعت لمونځ د فردي لمانځه څخه ۲۷ درجې زیات ثواب لري او په جماعت سره لمونځ کول واجب راغلي دي ، یعني واجب خپله د فرضو په ځای کې شمارل کیږي چې وروسته به یې په تفصیل سره بیان درته وشی.

حضرت محمد ﷺفرمایلي دي: هغه کسان چې جماعت ته نه راځي او په جماعت سره خپل لمونځ نه کوي نو زما دا اراده وي چې بوتي/لرګي

راوړم او ددوي کورونه په وسوځوم.

ددي حديث او خبري څخه دا معلوميږي چي لمونځ پر مسلمانانو باندي په څومره تينګښت او جبر سره د الله تعالى له طرفه پر موږ او تاسو فرض شوي دي.

ته به خبر يي چي وه حضرت محمد ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ ته هر اسلامي او شرعي حکم او فرمان د الله تعالى له طرفه جبرئيل ﴿عليه السلام﴾ ورته د وحي ، الهام او خوب په شکل ورته را رسولي ، خو اما د لمانځه د حکم او امر د فرض کولو لپاره الله تعالى خپله حضرت محمد ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ وغوښت او د معراج په شپه يي ټوله 5 وخته لمونځونه ورته بيان کړل چي دا به ته ستا وه امت ته بيانوي تر څو دا 5 وخته لمونځونه د الله تعالى د رضا او خپل ځان د دوږغ د اور څخه د خلاصون لپاره وکړئ.

نو ددي څخه دا موږ ته معلوميږي چي لمونځ څومره بهتر والي لري او څومره په پوره تينګار سره د محمد ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ پر امت باندي فرض شوي دي.

د لمانځه احکام

د لمانځه ټوله فرضونه په اصل کي ۱۴ داني راغلي دي او د شرط الصلوة له مخي هم ۱۴ داني ذکر شوي دي چي ٦ داني داخلي فرضونه (رکنونه) دي او ۸ داني خارجي فرضونه (شرطونه) راغلي دي. نو موږ هم د شرط الصلوة له مخي دا فرضونه ، واجبونه سنتونه ، مستحبات او نور اړوند مسائل را اخيستي دي ، که څه هم د ځيني مفسرينو او علماوو له ويناوو څخه دا حکمونه فرق او توپير لري ، ځيني علماء د فرضونو شمير ۱۵ ښي او ځيني بيا ۱۷ ښي خو تر ټولو چي ډير مشهور او د عتبار وړ دي هغه د شرط الصلوة کتاب دي.

په شرط الصلوة کي د لمانځه خارجي فرضونه (شرطونه) ۸ داني راغلي دي ، د لمانځه داخلي فرضونه (رکنونه) ٦ داني راغلي دي ، د لمانځه واجبات پکښي ۷ داني راغلي دي ، د لمانځه سنتونه ۱۴ داني راغلي دي مستحبات ۲۵ داني راغلي دي ، دلمانځه مکروهات ۱۰ داني راغلي دي او د لمانځه فاسدات ۱۴ داني راغلي دي.

چي ټوله به په شمیره وار بنه درته بیان سی.

د لمانځه خارجي فرضونه (شرطونه)

د لمانځه خارجي فرضونه (شرطونه): هغو شرطونو ته ویل کیږي چي د لمانځه څخه بهر ادا کیږي او ۸ داني دي.

۱: اودس کول ۲: دجامو پاکوالي ۳: د ځاي پاکوالي ۴: د بدن پاکوالي ۵: د عورت پټول ٦: قبلی ته مخامخ دریدل ۷: د لمانځه لپاره نیت کول ۸: د وختونو پیژندل

نوټ؛ پنځم د عورت پټول: د نارینه وو لپاره زنګنو څخه نیولي بیا تر نامه (نوؤ) پوري او ښځینه وو لپاره د ټوله بدن پټول ، ځکه ښځه ټوله عورت ده خو په لمانځه کي د مخ ، لاسونو او پښو ښکاره کول په عورت کي نه شامل کیږي او په لمانځه کي ددي ځاینو ښکاره کول پروا نکوي.

او اتم د وختونو پیژندل: یعني د هر وخت لمونځ په هماغه وخت کي ادا کول ، کچیري لمونځ پریښودل سی نو لمونځ په قضایي لمونځونو کي شمیرل کیږي چي بیا به ورته د نورو لمونځونو سره یو ځاي کوي.

د لمانځه داخلي فرضونه (رکنونه)

د لمانځه داخلي فرضونه (ارکان): هغو شرطونو ته ویل کیږي چې د لمانځه په داخل کې ادا کیږي او ٦ دا ني دي.

۱: تکبیر تحریمه ویل. ۲: قیامه (ولاړه) کول. ۳: قرائت ویل. ۴: رکوع کول. ۵: سجده کول. ٦: اخیره ناسته کول

نوټ: لومړي تکبیر تحریمه هغه تکبیر (الله اکبر) ته ویل کیږي چې لمونځ په شروع کیږي او نارینه خپله لاسونه د غوږو تر نرمیو پورې رسوي او خپل د لاسونه ورغوي (مینځ) د قبلی شریفي پر طرف سیده کوي او د (الله اکبر) لفظ وایي ، او ښځې خپل لاسونه د اوږو تر سرونو پورې رسوي او (الله اکبر) وایي.

کچیرې یو څوک له دغو ٦ رکنونو څخه یو دانه په هیره یا هم په قصده پریږدي نو لمونځ یې فاسدیږي او ټوله لمونځ به د سره را گرځوي دوباره به یې بیا کوي.

د لمانځه واجبات

د لمانځه واجبات ۷ دا ني دي چې عبارت دي له؛

۱: الفاتحه (الحمدالله) ویل. ۲: اوله ناسته کول. ۳: په اخیره ناسته کې التحیات ویل. ۴: د امام لپاره په زوره ویل د قرائت. ۵: د قرائت کرار ویل هم د امام لپاره او د مقتدي لپاره. ٦: په وتر لمانځه کې د دعا قنوت ویل. ۷: د رکنونو آرام والي.

نوټ: که چیرې څوک د واجباتو څخه یو هم په هیره باندي پریږدي نو پر ده باندي سجده سهوه لازمیږي او که یې څوک په قصده پریږدي نو د هغه کس لپاره دده دا لمونځ صحت نلري او دا کس په تاوان کې دي.

د لمانځه سنتونه

د لمانځه سنتونه د شرط الصلوة له لحاظه ۱۴ دانې ذکر شوي. عبارت دي له

۱: د لومړي تکبير تحريمه په وخت کي خپل لاسونه پورته کول تر غوږونو د نرمیو پورې. ۲: د راسته لاسه پر چپه لاسه تر نامه (نوؤ) لاندې نیول. ۳: سبحانه ویل. ۴: اعوذ بالله ویل. ۵: بسم الله ویل. ٦: د الحمدالله وروسته آمین ویل. ۷: سمع الله لمن حمده ویل. ۸: ربنا لک الحمد ویل. ۹: د رکوع تسبیحات ویل. ۱۰: د سجدې تسبیحات ویل. ۱۱: په اوله ناسته کي د التحیات ویل. ۱۲: په تشو رکعتونو کي د الفاتحه (الحمدالله) ویل. ۱۳: د تکبیر تحریمه څخه بغیر نور ټوله تکبیرنه ویل. ۱۴: د سلام ګرځول

نوټ: لومړي: د تکبیر په وخت کي د نارینه وو لپاره د لاسونو پورته کول تر غوږونو او خپلې ښځې ګوتې د غوږو د نرمیو سره لګول او د ښځو لپاره یوازې لاسونه پورته کول د اوږو تر سرونو پورې

څوارلسم: د سلام ګرځولو په وخت کي لومړي راسته طرف ته آسلام علیکم ورحمة اللّٰه او بیا چپه طرف ته آسلام علیکم ورحمة اللّٰه.

که چا ددغو ذکر شویو شپانو څخه یو شی پریښوي په قصده یا هم په هیره نو لمونځ یې کامل نه ګڼل کیږي او ثواب به یې لږ وي او څوک چې هر وخت داسې کړنه تکرار کوي چې هر وخت سنت عمل نه کوي یا هم سنت نه وایي نو پر هغه باندې ورځ په آخرت ملامتیا سته چې ډیر به شرمیږي په خپله داسې کړنه چې د محمد ﷺ سنت یې پریښی وي.

د لمانځه مستحبات

په لمانځه کي ټوله مستحبات (ادبونه) ۲۵ داني دي

۱: په قيام (ولاړه) کي د سجدي ځاي ته کتل. ۲: په رکوع کي وه پښو ته کتل . ۳: په سجده کي د پزي وه نرمي ته کتل. ۴: په ناسته کي خپلي سينې ته کتل. ۵: په هر ډک رکعت کي سورت پوره ويل. ٦: د مقتدي لپاره لازمه ده چي په کراره توګه الله اکبر ووايي او کش يې نه کړي. ۷: په رکوع کي د ګوتو خلاصول او پر ځنګنونو باندي ايښول. ۸: د رکوع په وخت کي بايد خپله ملا سيده ونيسي. ۹: خپل سر بايد د خپلو اوږو سره برابر ونيسي. ۱۰: د سمع الله لمن حمده په وخت کي خپل سر پورته کول. ۱۱: سجدي ته د تلو په وخت کي لومړي ځنګنونه پر ځمکه ايښوول. ۱۲: او وروسته د ځنګونو د ايښودلو څخه لازمه ده چي خپل لاسونه پر ځمکه کيږدي. ۱۳: او وروسته خپله پزه کښيدي پر مځکه باندي. ۱۴: د پزي ايښوولو څخه وروسته لازمه ده چي خپل تندي پر ځمکه ولګوي. ۱۵: د خپلو بازو ګانو ليري کول خپل د بدن څخه په سجده کي. ١٦: د نارينه وو لپاره لازمه چي خپل نس د ورونو څخه ليري کړي او د ښځو لپاره لازمه ده چي خپل نس او ورونونه سره ونښلوي په سجده کي. ۱۷: د خپلو پښو سيده ايښوول د قبلې وه طرف ته. ۱۸: په سجده کي ۳ ځله يا ۵ ځله يا هم ۷ ځله تسبيحات ويل. ۱۹: خپل سر د سجدي څخه پورته کول په (الله اکبر) سره. ۲۰: د سر پورته کولو څخه وروسته د خپلو لاسونو پورته کول. ۲۱: تر لاسونو پورته کولو وروسته خپل ځنګونونه پورته کول. ۲۲: په دوهم رکعت کي چي کله د دوهمي سجدي څخه پوره شي نو چپه پښه باندي کښيناستل. ۲۳: او راسته پښه په داسې توګه نيول چي

څمکي ته برابری يي او د پښی تله پورته وي. ۲۴: د خپلو گوتو غوړول پر خپلو ورونو باندي او د التحيات ويل په زړه کي او په ژبه باندي. ۲۵: د التحيات وروسته پر محمد ﷺ درود شريف ويل او سلام گرځول او ويل خپل وه راسته بغل او چپه بغل ته

او همدارنگه د لمانځه څخه بهر نور واجبات هم سته چي دعا ويل دي ، د آيت الکرسي ويل دي او د سبحان الله ، الحمدالله او الله اکبر ۳۳ ځله ويل.

نوټ ؛ که هرچا د مستحبات څخه يو هم پريښوي نو وه لمانځه ته يي کوم نقصان نه رسيږي خو د ادبونو ثواب يی ختميږي او د الله د امر نافرمانی کيږي نو بايد موږ او تاسو خپل لمونځ په پوره او کامل شکل ادا کړو تر څو هم الله تعالی او د هغه رسول دواړه راڅخه راضي وي.

د لمانځه مکروهات

د لمانځه مکروهات ۱۰ داني دي چي عبارت دي له؛

۱: بيله عذره په لمانځه کي چارزانو ناسته کول. ۲: په گوتو سره د آيتونو شميرل. ۳: په سجده کي خپل څنگلي / بازوگان د ځمکي سره نښلول. ۴: په سترگو کي چپه او راسته طرفونو ته کتل. ۵: بيله عذره د سترگو پټول. ٦: د سجدي د ځاي څخه بيله عذره د ډبرو او شگو ليري کول. ۷: په لمانځه کي ځان کشول او غځول. ۸: اړمي کښل او لاس يا پټو نه ورته نيول. ۹: په خپل او جامو لوبي کول. ۱۰: د صف څخه بغير بل ځاي دريدل. نوټ: پنځم: د سترگو پټول ځکه مکروه سوی دي ځکه چي يهودانو به د خپلو بودايانو د عبادت پر وخت خپلي سترگي پټولي. لسم: چي په صف کي ځاي وي خو مگر دی بيا هم شاته ودريږي نو لمونځ يي مکروه دي.

د لمانځه مفاسدات

د لمانځه مفاسدات ۱۴ داني دي چې عبارت دي له

۱: په لمانځه کې غاړه تازه کول بیله عذره. ۲: چې یو څوک اتریچه (توخي) وکړي او دي ورته یرحمک الله ووایي. ۳: د امام څخه بغیر وه بل چاته په لمانځه کې فتح ورکړي. ۴: په لمانځه کې کلمه شریفه لوستل خو که یې نیت د لمانځه د خبرتیا لپاره وو بیا لمونځ نه فاسدیږي. ۵: د عورت ښکاره کول. ٦: چې یو څوک د درد او له غم څخه په ژړا سی خو که دا ژړا یې د الله د ویري څخه وه بیا لمونځ نه فاسدیږي. ۷: د سلام جواب ورکول په لاس یا هم په خوله سره. ۸: د قضایي لمانځه یادیدل په هغه وخت کې پر ده باندې نه وي ساقط سوي. ۹: په لمانځه کې کار کول. ۱۰: په هیره یا په قصده په لمانځه کې خبرې کول. ۱۱: خوراک یا څښاک کول. ۱۲: په لمانځه کې ستمهاري (اه اُوه) کول. ۱۳: په زوره یا کرار خندل په لمانځه کې. ۱۴: انسان بې هوښه کیدل

نوټ: پنځم: د عورت ښکاره کول یعني کچیري یو نارینه یا ښځې خپل عورت ښکاره کړ نو لمونځ یې فاسدیږي چې د نارینه وو عورت د ځنګونو څخه بیا تر (نوؤ) پورې دي او ښځې دا لاسونه تر مړوندو ، پښې تر بیجلوکو ، او مخ عورت ندي نور ټوله عورت ده . دا ټوله هغه فاسدات دي چې که کچیري یو څوک یو دانه هم په هیره او یا هم په قصده وکړي نو لمونځ یې فاسدیږي او دي مجبوره دي چې خپل لمونځ به د سره شروع کوي.

مسجد ته د ننوتلو دعاء

څوک مسجد ته داخليږي نو دا دعا دي ووايي او بيا دي راسته پښه دمخه کړي.

(اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ)

ژباړه: اې الله، ستا د رحمت دروازې زما لپاره پرانيزه.

مسجد څخه د راوتلو دعاء

څوک مسجد ته څخه راوځي نو دا دعا دي ووايي او بيا دي چپه پښه دمخه کړي.

(اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ)

ژباړه: اې الله، زه له تا څخه ستا له فضله غوښتنه کوم.

د اذان دعاء

اللَّهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ

ژباړه: اې الله! د دې بشپړې بلنې او قائمېدونکې لمانځه ربّه، محمد ﷺ ته وسيله، فضيلت او لوړ مقام ورکړه، او هغه په محمود مقام کې راپاڅوه چې تا ورسره وعده کړې ده.

د لمانځه د قضا کولو حکم

د لمانځه قصداً پريښودل :

لمونځ په دين کې داسې دی لکه د انسان په بدن کې سر نو په وه شئ چې لمونځ څومره اهميت لري ؟

خدای (جل جلاله) مه کړه که څوک د لمانځه په غفلت اخته شول نو خپل ځان يې د تباهۍ لويې کندې ته برابر کړ ، هغه دې ژر تر ژره توبه وباسي او خپل ځان دي د اصلاح لوري ته وګرځوي.

الله سبحانه وتعالى فرمايي : [مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ ۴۲ قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّي] (المدثر۴۳).

تاسې څه شي دوزخ ته راوستلي ياست ، هغوی به ووايي مونږ له لمونځ کونکو څخه وؤ.

د لمانځه د پريښودلو حکم :

د جمهورو فقهاؤ قول دا دی که څوک قصداً لمونځ پريږدي او له وجوب څخه يې منکر وي هغه کافر او مرتد دی ، دری ورځې وخت به ورکړل شي که توبه يې وايستله نښه ده او که نه قتل دې شي ، د هغه سره نکاح ختمه ده ، د هغه د لاس ذبيحه خوړل جايز نه دي (د ذبيحې بغير نور خواړه باک نه لري) په هغه باندې د جنازې لمونځ نه ادا کيږي ، د مسلمانانو په هديره کې نه دفن کيږي ، ميراث يې درست نه دی ، د هغه مال به د بيت المال په خزانه کې جمع کيږي.

د لمانځه د قضا کولو حکم[2]

په دليل د دغه حديث شريف : " **العهد الذي بيننا وبينهم الصلاة فمن تركها فقد كفر** " أخرجه الإمام أحمد وأهل السنن بإسناد صحيح ، وقوله صلى الله عليه وسلم : " **بين الرجل وبين الكفر والشرك ترك الصلاة** " أخرجه الإمام مسلم .

ژباړه: که د لمانځه په وجوب باندې ايمان ولري مګر د سستۍ او تنبلۍ له وجې لمونځ ترک کوي هغه مسلمان دی ، نکاح يې صحي ده ، ذبيحه او خوراک يې صحي دي خو د کبيره ګناه او ستر جرم مرتکب شوی دی.

د لمانځه د پرېښولو سزا د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دا ده چې تر هغه وخت دې بندي کړ شي څو لمونځ وکړي او ځنې احناف وايي داسې دې ووهل شي څو له بدن څخه يې وينې جاري شي.

د امام شافعي رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نزد د تارک صلاة جزا د هغه قتل دی.

او د امام احمد په نزد د تارک صلاة سزاء دا ده چې هغه به د کفر او ارتداد په وجه وژل کيږي.

د نارینه او ښځې د لمانځه ترمنځ توپیر

په ارکانو او احکامو کې د نارینه او ښځینه لمونځ یو شان دی ، په ځنو فرعي مسائلو او په خاصه توګه د ستر په برخه کې د نارینه سره فرق لري . لکه په لاندې صورتونو کې :

۱- په لمانځه کې د ښځې ټول بدن عورت دی بغیر له مخ ، لاسونو او پښو او د نارینه عورت د نامه څخه لاندې تر ګونډو پورې دی .

۲- په ښځې باندې د جماعت لمونځ واجب نه دی او د ښځې د پاره په کور کې لمونځ کول غوره دي لکن په نارینه باندې د جماعت لمونځ واجب دی .

الحدیث : (لا تمنعوا نساءکم المساجد، وبیوتهن خیر لهن) (أبو داود وابن خزیمة).

۳- کله چې په لمانځه کې امام سهوه شي نارینه به په تسبیح ویلو سره فتح ورکوي مګر ښځې به په لاسونو ټکولو سره فتح ورکوي .

الحدیث : (التسبیح للرجال، والتصفیق للنساء) (متفق علیه) .

۴- د ستر په برخه کې په قیام ، سجده او قعده کې فرقونه :

الف- نر به دواړه لاسونه د غوږونو تر نرمیو پورې پورته کوي ، ښځې به خپل لاسونه تر اوږو پورې پورته کوي.

ب) : نارینه به لاسونه تر نامه لاندې نیسي.

د نارینه او ښځې د لمانځه ترمنځ توپیر [2]

او ښځه به لاسونه په سینه باندی نیسي .

ج) : د نارینه د پاره د دواړو لاسو څنګلې او مړوندونه دځمکی نه پورته او ګیډه د ورنونو نه جلا ساتل پکار دي د لمونځ کوونکی د ګیډی اوځمکی ترمنځ به خالي ځای پریښودل کیږي او د ښځو لپاره ورنونه د ګیډې سره پیوسته کول او پښی په ځمکه باندی غوړیدلی ساتل په کار دي .

د) : د جلسې او قعدې په وخت کې به نارینه ښی پښه ولاړه د پښې ګوتې د قبلې په طرف وي اوګینه پښه به څملوي د پاسه دې پرې کیني او دواړه لاسونه په په ورنو ږدي ، ښځه به دواړه پښی ښی طرف ته ویستل اوخپل ښی ورون دګین ورون سره جنګول په هغه کیناستل پکار دي او تشهد به وائی.

د لمانځه مکروه وختونه

مکروه وختونه هغه وختونه دي چې په هغه وختونو کې لمونځ او د مړي ښخول منع شوي دي دا وختونه درى دي اول : د سهار د لمانځه وروسته تر لمر ختلو پورې دوهم : د لمر برابري پر سر باندي يا غرمه دريم : د مازديګر د لمانځه وروسته تر لمر لوېدو پورې .

د مسلم شريف په حديث کې راغلي دي : «**لا صلاة بعد الصبح حتى تطلع الشمس، ولا صلاة بعد العصر حتى تغيب الشمس**»

ژباړه : لمونځ نشته پس د سهار د لمانځه څخه تر لمر ختلو پورې او لمونځ نشته د مازديګر د لمانځه څخه تر لمر لوېدو پورې .

او همدارنګه د غرمې په باره د منع دا حديث شريف راغلى دى : وحين يقوم قائم الظهيرة (المسلم) .

همدارنګه په دوو نورو وختونو کې هم لمونځ کول او د مړي خښول مکروه دي لکه : د لمر ختل څو پورې چې د يوې نېزې په اندازه لوړ شي او د لمر زېړېدل کله چې ډوبيږي .

په دليل د دغه حديث شريف : «**ثلاث ساعات كان رسول الله صلّى الله عليه وسلم ينهانا أن نصلّي فيهن، وأن نقبُر فيهن موتانا: حين تطلعُ الشمس بازغة حتى ترتفع، وحين يقوم قائم الظهيرة حتى تزول الشمس ، وحين تتضيَّف الشمس لغروب**» .

يعني : رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ په دريو وختونو کې د لمانځه کولو او خپلو مړو خښولو څخه منع کړي يو ، کله چې لمر راخيږي څو پورې پورته شوی نه وي ، کله چې لمر برابر شي (غرمه) او کله چې لمر زيږ او ضعيف شي د ډوبېدو لپاره .

په دغه وختونو کې د منع دليل دا دی چې د لمر را ختلو او لمر ډوبېدو په وخت کفار عبادت کوي او د لمر د برابرۍ يا غرمې پر مهال د دوزخ دروازې پرانيستل کيږي (**فقه الاسلامي وادله**) .

په مکروهه وختونو کې هر قسم لمونځ فرض، واجب ، قضايي او نفل ، د جنازې لمونځ او د تلاوت سجده مکروه تحريمي دي (**فقه الاسلامي وادله ،فتح القدير مع العناية:١٦١-١/١٦٦ ، مراقي الفلاح: ص٣١، الدر المختار:١/٣٤٣-٣٤٩**)

هغه ځايونه چې د لمونځ کول پکښې مکروه دي

په لاندې ځايونو کې لمونځ کول مکروه تحريمي دي ځکه چې په داسې ځايونو کې لمونځ کول په سنتو کې منع شوي دي :

١- په لاره کې لمونځ کول مکروه دي ځکه چې هلته د خلکو تګ راتګ وي .

٢- په قبرستان (هديره) کې لمونځ کول مکروه دي .

٣- په داخل د حمام کې لمونځ کول مکروه دي .

٤- په کليسا کې لمونځ کول مکروه دي .

٥- د کعبې شريفې په بام لمونځ کول مکروه دي .

٦- د اوښانو او حیوانانو په پنډغاړي کې لمونځ کول مکروه دي .

۷- چېرې چې نجاست لنډ وي یا د نجاست وېره وي هلته لمونځ کول مکروه دي لکه د حیواناتو د ذبحې کولو ځای ، د حیوانانو د خشیو وچولو ځای او داسې نور .

۸- د جمهورو په نزد په غصب شوي ځمکه لمونځ کول مکروه دي مګر د امام احمد په نزد حرام دي همدارنګه په حرامو مال باندې جوړ شوي جومات کې لمونځ کول مکروه دي .

(فقه الاسلامي وادله –الأماكن التي تكره الصلاة فيها)

په لمانځه کې خشوع (عاجزي) کول

د لمانځه فرایض ،واجبات ،سنت ،مکروهات او مفسدات بیان شول چې دغه ټول احکام د لمانځه په ظاهري شکل پورې اړه لري . چې کله دغه احکام ټول صحی آدا شي نو لمونځ به په ظاهر سره درست او کامل وي .

لکن دلمانځه دظاهري صحت سره دلمانځه باطني صحت هم ضروري دی چه هغه په زړه او دیماغ پوري اړه لري ، چه ترخپله وسه د دزړه توجه بلی خواته نشي که په لمانځه کې دزړه توجه بل لوری ته شي نو دا لمونځ به بې روحه لمونځ وي که کله په هیره سره توجه لږ بلی خواته شي نو خیر .

دخشوع تعریف :

په لغت کې ټیټیدل ،عاجزی او سکون ته وایي اوپه شریعت کې زړه او دیماغ

په پوره غور سره دخدای طرف ته متوجه کول او په هغې کې د عاجزئ او بندګئ کیفیت پیدا کولو ته خشوع وائي .

نو هر کله چې سړی لمانځه ته پورته شي او توجه يې د خپل رب (ج) طرف ته وي نو پر بدن باندې د هغې هم تاثیر پریوځی یعنی د وجود په اندامو کې سکون راځی بیا یو او بل طرف ته نه ګوري په جامو او بدن به لاس نه وهي او توجه به يې خپل لمانځه ته وي نو وروسته به ضرور ټول احکام به په ښه شان او آرامی سره ادا کوي .

وَاسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلاَّ عَلَى الْخَاشِعِينَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلاَقُو رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ (البقره 45-46).

ژباړه : اومدد وغواړی (په هره سختی کې له الله تعالی څخه) په صبر اولمانځه سره اویقیناً دا لمونځ خامخا ډیر دروند دی مګر (نه دی دروند) په عاجزی کوونکو(خوند اخیستونکو له اطاعته) هغه کسان چه یقین کوی چه بیشکه دوی مخامخ کیدونکی دی له پروردګار خپل سره او په تحقیق دوی هم ده ته (په اخرت کې) بیرته ورتلونکی دی.

یعنی لمونځ دټولو حقوقو سره په ښه شان او د زړه په حضور ډیر درونـد دی مګر دا درونـد کار یوازی په هغه چا آسان دی چې عاجزی کوی اوله الله تعالی څخه ویریږی او د دوی خیال اوفکر په همدی لوری وي چې مونږ به خامخا ورشو او دهغه په لوری ورتلونکی یو.

هغه کسان چې په لمانځه کې خشوع کوي دکامیابی زیری ورکړل شوي دي .

قوله تعالی :قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ 1 الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ .

اوهمدارنګه هغه کسان کامیاب دي چې دخپل لمانځه حفاظت کوي د یعنی تل پنځه وخته لمونځ کوي په خپل وخت کې سره له ټولو حقوقو.

قوله تعالی: وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ .

داسې نه چې کله په دنیاوی کارونو کې مشغول شي لمونځ ناوخته کړي .

ضروري یادونه :

دلمانځه دصحت لومړی شرط علم دي دلمانځه دکولو طریقه او د هغه دټولو احکامو زده کړه فرض ده .

څوک چه دلمانځه له احکامو ناخبره وي هغه به څنګه دلمانځه په صحت اوخرابی پوه شي؟

د صلاة التسبیح لمونځ

دا لمونځ چې مشهوره په تسبیح لمانځه سره دي. دا لمونځ کول لوی فضیلت لري ددې لمونځ په کولو سره د انسان وروسته او مخکینې ټول (کوچني) ګناهونه الله تعالی ور معاف کوي دا لمونځ حضرت رسول الله ﷺ خپل تره عباس ﷺ ته ښودلی وو او ورته فرمایلی ئی وه چه که ئی کولای شی نو دا لمونځ هره ورځ کوه که هره ورځ نه وي هره جمعه یې کوه او که یې هره جمعه نه شی کولای نو په کال کې یې یو وار کوه

که په کال کې يې يو وار هم نشې کولای نو په ټول عمر کې يې يو واړې ضرور او خامخا وکړه .

دا لمانځ څلور رکعته دی د نورو لمونځونو په شان دی يواځې تسبحات پکې زيات شوي چې په همدې وجه د تسبيح لمونځ بلل کيږي د کولو طريقه په لاندې ډول ده .

دغه تسبحات به په لاندی ترتيب سره ويل کيږي :

سُبْحَانَ اللهِ وَ الْحَمْدُ لله وَ لاَ اِ لهَ اِ لاَّ اللهُ وَ اللهُ اَكْبَرُ

طريقه يې:

چه نيت وترې تر ثناء يعنی **سبحنک اللهمّ** ورسته دا تسبحات پنځلس ۱۵ واره وايې بيا تر **اعوذ بالله ،بسم الله ،الحمدالله** او سورة وروسته لس ۱۰ واره بيا په رکوع کې تر **سبحان ربی العظيم** وروسته لس ۱۰ واره بيا د رکوع نه ورسته په قومه کې لس ۱۰ ځله بيا په اوله سجده کې تر **سبحان ربی الاعلی** ويلو وروسته لس ۱۰ واره بيا په جلسه کې (د دواړو سجدو تر منځ کيناستل) لس ۱۰ ځله بيا په دوهمه سجده کې هم لس ۱۰ ځله وايې چه دا تسبيح به په يوه رکعت کې پنځه اويا ۷۵ ځله کيږي ددی څخه ورسته به دوهم رکعت ته پورته شي د **الحمدلله** څخه مخکې به پنځلس ۱۵ ځله دا کلمی ووايې ،همدارنګه په پاتې رکعتونو کې په همدی ډول لوستل کيږي چه په څلورو رکعتونو کې دغه کلمی دری سوه ۳۰۰ واره کيږي .

دغه ترتيب د عبدالله بن مبارک څخه روايت شوی دی .

دغه لمونځ بغير له مکروهه وخت (لمر راختل ، لمر پريوتل او غرمه) څخه بغير نور پر هر وخت کې کيږي.

د لمانځه د قضاء کولو حکم

پر چا چا د لمانځه قضايي نشته :

په حائضه ، نفاسه ښځه باندې د لمانځه قضايي نشته همدارنګه په بې هوشه او ليوني چې د پنځو لمونځو څخه زيات وي قضايي راوړل واجب ندي .

اول د کوم عذر له کبله قضايي :

د چا چې لمونځ هير شي يا بيده وي او د لمونځ وخت ور باندې تير شي نو هغه ته پکار ده چې هر کله لمونځ ور په ياد شي يا د خوب نه بيدار شي د هغه لمانځه قضايي به راوړي همغه يې وخت دی په دليل د لاندې حديث شريف :

" من نسي صلاة أو نام عنها فكفارتها أن يصليها إذا ذكرها" (صحيح مسلم : 684-315/477/1)

يعنې: د چا څخه چې لمونځ هير شي او يا خوب وړی وي او لمونځ ترې قضا شي د هغه کفاره دا ده چې کله يې ور په ياد شو همغه وخت به د هغه قضايي راوړي .

د پورته حديث شريف او همدانګه د الله جل جلا له ددې قول : **اقم الصلوة لذكرى** په رڼا کې احناف وايي : د فرض لمونځ قضايي په مکروه وخت کې هم جايزه ده ځکه چې په حديث شريف کې وخت دا ښودل شوی دی چې کله در په ياد شو او په مکروه وخت کې چې د لمونځ نهی راغلی ده هغه نفلي لمونځ دی (**فتاوي دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۲۳٦ – هدايه ج ۱ ص ۸۱،۸۲**) .

پرته له کوم عذر د لمانځه قضايي :

او که د چا څخه کوم لمونځونه د سستۍ له وجې قضا شوی وي او وروسته توبه وباسي ، هغه ته په کار ده چې د لمانځه قضايي راوړي .

قضايي راوړل داسې چې که يې شمير معلوم وي نېه او که يې شمير معلوم نه وي په خپل غالب گمان به هغه وشميري د لمانځه قضايي بغير له مکروه وختونو نور هر وخت ادا کولای شي .(فتاوي دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۲۳۵۰ – کفايت المفتي ج ۳ ص ۳۷۷).

فقط د لمونځونو ترتيب به په په نظر کې نيسي مثلاً اول د سهار لمونځ بيا د ماسپښين... او څومره يې چې په توان کې وي دومره لمونځونه په مسلسل ډول ادا کولای شي .

يوازې د فرضو قضايي به ادا کوي همدارنگه د سهار د سنتو او وتر واجبو قضايي به هم ادا کوي ځکه چې په اړه يې ډير تأقيد شوی دی .

مگر هغه کس چې تر شپږو لمونځو کم ورځخه قضا شوي صاحب ترتيب بلل کيږي ، صاحب ترتيب به د لمانځه په قضايي کې دا ترتيب په نظر کې نيسي چې : په ترتيب سره به لومړی د همغه وخت قضايي لمونځ ادا کوي او بيا د حاضر وخت لمونځ ادا کوي.

د لمانځه ژباړه (معنا)

اللهُ أكبر = الله تعالى لوی دی

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالى جَدُّكَ وَلَآ إِلهَ غَيْرُكَ

ای الله ! ته پاک یې ، او ته د صفت لائق یې ،او ستا نوم ډیر د برکت دی ،او ستا شان ډیر لوړ دی ،او ستا څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نشته .

أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ

زه پنا غواړم په الله تعالی د شیطان شړل شوي څخه .

بِسْمِ اللهِ الرَّحمنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله تعالی چې ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی .

الْحَـمْدُ للّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ * الرَّحْمـنِ الرَّحِيمِ * مَـلِكِ يَوْمِ الدِّينِ

ټولې ستاینې خاص الله لره دي چې پالونکی د ټول عالم دی ، ډیر زیات مهربان او پوره رحم لرونکی دی ، څښتن د ورځی د جزا (قیامت) دی.

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ * اهدِنَـــا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ

یوازې تاته عبادت کوو ، او یوازې له ستا څخه مدد غواړو، یا (الله!) وښیه مونږ ته لاره سمه .

صِرَاطَ الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِـــمْ غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّـــالِّينَ

لاره د هغو کسانو چې تا انعام (فضل او کرم) ور باندې کړی ،نه لاره د هغو بدو کسانو چې ګمراهان دي.

آميـــــــــــــــن

زمونږ دعا قبوله کړه

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ * اللَّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ * وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ*

ووايه چې الله يو دی ، الله بی پروا دی (هيڅ چا ته احتياج نه دی) ،نه څوک ورڅخه زيږدلي دي او نه د چا څخه زيږيدلی دی، او نه يې کوم سيال شته.

سُبْحَانَ رَبِيَّ الْعَظِيْم

پاک او سپيڅلی دی زما ستر رب

سَمِعَ اللهُ لِمَن الحَمِدَ

الله د ستايونکي خبره اوري

رَبنَا وَلَكَ الْحَمْدُ/رَبنَا لَكَ الْحَمْدُ

ای زمونږ ربه! تولې ستاينې او تعريفونه يوازې تا لره دي./ د او زيادت

سُبْحَانَ رَبِيَّ الاَعلى

پاک او سپيڅلی دی زما لوړ رب

اَلتَّحيَّاتُ لله وَالصَّلَواتُ وَالطَّيِّباتُ، اَلسَّــلاَمُ عَلَيْكَ أيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ الله وَبَرَكَاتُه،

تول تعريفونه ، او تول عبادتونه ،او تول پاکيزه خبرې الله لره دي، سلام دې وي پر تا باندې ای نبي (صلى الله عليه وسلم) او پر تا باندې دې د الله رحمت او برکتونه وي .

اَلسَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلى عِبَادِ الله الصَّالِحِيْنَ، أشْهَدُ أنْ لاَ إلهَ إلاَ اللهُ وَأشْهَدُ أنْ مُحَمَّدًا عَبْدُه وَرَسُوْلُه.

او سلامتي دې وي پر مونږ او د الله (جل جلاله) پر نيکو او صالحانو بندګانو باندې ، شاهدي ادا کوم چه د الله (جل جلاله) څخه پرته بل څوک د عبادت وړ

او لایق نشته ، او شاهدي ادا کوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دی .

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ

یا الله (جل جلاله) رحمت نازل کړې پر محمد (صلی الله علیه وسلم) او د هغه په کورنۍ ، لکه څنګه دې چې په ابراهیم (علیه السلام) او د هغه په کورنۍ نازل کړی وو ، یقیناً ته ستایلی او لوی یې.

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ وَعَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ

یا الله (جل جلاله) برکت نازل کړې پر محمد (صلی الله علیه وسلم)او د هغه په کورنۍ، لکه څنګه دې چې په ابراهیم (علیه السلام) او د هغه په کورنۍ برکت نازل کړی وو، یقیناً ته ستایلی او لوی یې.

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّ فِی الاخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّار

ای زمونږ ربه ! مونږ ته په دنیا کښې هم نیکي (ښه ژوند) را کړه او په آخرت کښې هم نیکي(جنت) راکړه ، او مونږ د اور له غذابه وساتې .

اَسَّلامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَةُ الله

سلام او د الله رحمت دې وي پر تاسو

دعا قنوت

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُکَ ،وَ نسْتَغْفِرُکَ وَنُؤْمِنُ بِکَ ،وَنَتَوکَّلُ عَلَيْکَ، وَنُثْنِیْ عَلَيکَ الْخَيرَ، وَنَشْكُرُکَ

ای الله ! له تا څخه مرسته غواړو، او له تا څخه بخښنه غواړو، پر تا مو ایمان دی ، او پر تا مو توکل دی ، او ستا غوره ستاینه کوو ، او ستا شکر ادا کوو .

وَلاَ نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ، وَ نَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُكَ.

او ستا ناشکري نه کوو ، او له هغه چا څخه جلا کیږو او پرپردو یې چې ستا نافرماني کوي .

اَللهُمَّ اِيَّاکَ نَعْبُدُ ، وَلَکَ نُصَلِّیْ ،وَنَسْجُدُ ،وَاِلَيْکَ نَسْعیٰ، وَنَحْفِدُ، وَنَرْجُوا رَحْمَتَکَ وَنَخْشیٰ عَذَابَکَ اِنَّ عَذَابَکَ بِالْکُفَّارمُلْحِق

ای الله ! خاص ستا عبادت کوو ، او تا ته لمونځ کوو ، او همدا تا ته سجده کوو ، او ستا لور ته در ځغلو ، او ستا هر امر ته حاضر یو ، او ستا د رحمت او لورونو هیله من یو ، او ستا له عذابه ویرږو ، یقیناً ستا عذاب کافرانو ته ورسیدونکی دی .

د لمانځه وروسته دعا

أَسْتَغْفِرُ اللهَ ، أَسْتَغْفِرُ اللهَ ، أَسْتَغْفِرُ اللهَ ،

زه د الله څخه بخښنه غواړم ، زه د الله څخه بخښنه غواړم ، زه د الله څخه بخښنه غواړم .

اَللهُمَ اَنْتَ السَّلاَمُ وَمِنْکَ السَّلاَمُ تَبَارکْتَ يَاذَالجَلاَلِ وَالاَکْرَامِ

ای الله ! ته سلامت یې او سلامتي ستا له لورې ده ، ته د برکت څښتن یې ، ای د لویی ، عزت او وقار څښتنه.

په لمانځه کې ځینې عامې غلطۍ

ښاغلو وروڼو او خویندو ! په لمانځه کې عامه غلطۍ او دې غلطۍ ته جدي پاملرنه کول پکار ده ځکه د چا چې لمونځ سم شو د هغه دنیا او اخرت ان شاء الله سمیږي ، مهرباني وکړئ دا موضوع په غور ولولئ او نورو ته یې ورسوئ.

په لمانځه کې ځنې خپرې شوې خطاوې دي چې ځنې بدعت ، ځنې مکروه او ځنې حرام چې په لاندې ډول دي :

۱- کله چې لمونځ کوونکی ګمان وکړي چې جماعت ولاړ دی نو په منډه او تیز تګ سره جومات ته ځي حال دا چې جومات ته تیز تلل مکروه او په سکون او وقار سره تلل سنت دي .

جناب نبی صلی الله علیه وسلم فرمایي: ژباړه : کله چې تاسې اقامت واروئ نو د لمانځه طرف ته په په آرام او خشوع سره ځئ او تیز مه ځئ ، څه مو چې ومودل هغه ادا کړئ (له امام سره) او څه چې درڅخه پاتې وو هغه پوره کړئ .

۲- په جماعت کې به دوهم صف د امام په برابر جوړیږي مګر ځنې کسان له ښي لوري یا چپ لوري صف پیل کوي چې دا کار د سنتو خلاف دی په دلیل د دغه حدیث شریف «وسطوا الإمام وسدوا الخلل».

۳- د تکبیر تحریمه پر مهال لاسونو چې تر غوږونو پورته کیږي د ګوتو پراخه نیول او د لاسونو پنجې او ورغوي قبلې ته مخامخ کول سنت دي ، مګر ځنې کسان ګوتې پیوسته او د لاسونو ورغوي د قبلې پر ځای خپلو غوږونو طرف ته برابروي .

۴- د قیام پر مهال د سجدې ځای ته کتل سنت دي مگر ځنې کسان د سجدې د ځای څخه پرته یو اړخ او بل اړخ ته ګورې چې داسې کول مکروه د لمانځه حضور خرابوي او کچېرې د کتلو سره سینه وګرځوي لمونځ فاسدیږي .

عایشه رضی الله عنه وایي : د رسول الله علیه وسلم څخه مې په لمانځه کې یوې بلې خوا کتلو په اړه پوښتنه وکړه ویې فرمایل :« هو اختلاس یختلسه الشیطان من صلاة العبد».

یعنې : دا یوه پټه غلا ده چې شیطان یې د بنده له لمانځه څخه وړي .

۵- ځنې کسان پر خپل بدن ، جامه او ویښتانو لوبې کوي او لاس وروانديې وهي چې دا عمل اصلاً په لمانځه کې د خشوع او حضوع نه لرلو نښانه ده او لږ حرکت کولو سره لمونځ مکروه کیږي .

مگر په لمانځه کې زیات حرکت کول او ډیر ښورېدل چه کتونکی فکر وکړي دا سړی لمونځ نه کوي مثلاْ د ځان ډیر ګرول یا د جامو برابرول یا په بدن اوجامو ډیر لاس وهل عمل کثیر بلل کیږي لمونځ یې فاسد ګرځي .

۵- په لمانځه کې په ادب درېدل سنت دي :

په لمانځه کې د قیام پر مهال به د پښو تر مینځ متوسطه او معمولي فاصله چې نه ډیره کمه او نه ډیره زیاته وي موجوده وي ځکه چې په متوسطه فاصله کې خشوع او ادب دی د متوسطې فاصلې نه لږه یا زیاته فاصله مکروه د سنتو خلاف عمل دی .

دغه متوسطه اندازه ائمه کرامو رحمه الله علیهم داسې بیان کړې ده:

د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد د پښو تر مينځ فاصله د څلورو گوتو په اندازه .

د امام شافعي رحمه الله په نزد د يوې لوښتې په اندازه .

د امام مالک رحمه الله په نزد متوسطه اندازه مستحب ده چې نه کمه وي او نه ډيره زياته .

اللجنة الدائمة ليکي :

په قيام کې د پښو نښلول او همدارنگه د پښو تر مينځ زياته فاصله پريښودل په سنتو او صحيح حديث سره ثبوت نه لري ،بناءً لمونځ کوونکی به پښې نه نښلوي او نه به د پښو تر مينځ زياته فاصله پرېږدي بلکي معتدله فاصله به وي .

٦- په صحي شان رکوع کول:

رکوع د لمانځه رکن دی د رکوع لپاره داسې ټيټېدل پکار دي چې د لاسونو په پراخه گوتو به گوندې نيسي سر به د شا (ملا) سره يو شان وي او دری څله به په کراره او سکون سره د رکوع تسبيح وايي .

ځنې کسان لېدل کيږي چې په ډيره ښېره رکوع کوي تسبيحات صحي نه لولي ، سر له شا (ملا) سره سم نه وي ، داسې رکوع چې په هغه کې اطمنان نه وي (اندامونه کرار ونه نيسي) او حتی يو څل هم صحي تسبيح ونه وايي داسې رکوع نه صحي کيږي لمونځ فاسد دی .

رسول الله صلی الله الله عليه وسلم په رکوع کې د پوره سکون حکم کړی او سکون په ټولو ارکانو کې واجب دی : «ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا..».

ژباړه : وروسته رکوع ته لاړ شه تر هغه چې بدن دې آرام او بې حرکته شي .

۷- قومه کول:

د رکوع څخه پورته کېدل (سمع الله لمن حمده – ربنا لک الحمد) ویل او په سکون او اطمان درېدلو ته قومه وایي .

قومه د متأخرینو احنافو په نزد واجب او د امام یوسف رحمه الله په نزد فرض ده .

زیات کسان په صحي شان ، سکون او اطمنان سره قومه نه ادا کوي .

۸- سجده کول:

دوه ځله سجده کول په لمانځه کې فرض دي ،سجده په اوو اندامونو تر سره کیږي په سجده کې د پوزې نه لګول یا د دواړو پښو په پورته کولو سره سجده نه ادا کیږي .

که دواړې پښې په ټوله سجده کې پورته کړ شي نو سجده نه ادا کیږي کله چه سجده ادا نشو نو لمونځ فاسد شو.

دا ځکه چې سجده باید په اوو اندامو ادا شي ، جناب نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي : ژباړه: ما ته حکم راکړ شوی دی (د الله د طرف څخه ماته حکم شوی دی) چې زه په اوو اندامونو باندې سجده وکړم یعنی سجده داسې وکړم چه دا اوه اندامونه پر ځمکه ایښودل شوی وي تندی ، دواړه لاسونه ،دواړه ګوندې ،او د دواړو پښو کنارې او دا هم حکم دی چه مونږ به خپلې جامې او ویښتان نه راغونډوو .

زیات کسان په بیړه د ټونګې په شان سجده کوي چې هیڅ سکون او اطمینان

پکښې نه وي پرته له سکون او اطمان څخه لمونځ نه صحي کيږي ځکه سکون واجب دی د واجبو په قصداً او عادتاً ترک کولو سره لمونځ فاسديږي .

۹- جلسه کول:

جلسه کول – يعنی د دوو سجدو په مابين کې په ښه شان کيناستل چې د بدن ټول اندامونه کرار شي او د پوره ناستي گمان باندي وشي .

په دليل د دغه حديث شريف: « ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا»

يعني : بيا سجده ادا کړه داسې چې بدن دې آرام او بې خځښته شي بيا دې سر له سجدې پورته کړه تر څو د کيناستلو په حال کې آرام او بې حرکته شي .

قومه او جلسه د متخرينو احنافو په نزد واجب ده مگر د امام يوسف امام مالک ، امام شافعي او امام احمد په نزد قومه ، جلسه او د لمانځه په ټولو ارکانو کې سکون او اطمنان فرض دی .

ځنی کسان د چرگ په شان ټونگې وهي چه لمونځ يې نه صحي کيږي ځکه که جلسه واجبه وبولو د واجبو په قصدي ترک سره لمونځ فاسديږي او که فرض يې وگڼو د فرض په ترک سره لمونځ نه صحي کيږي .

په تيزی او بې سکون لمونځ کول د منافق لمونځ دی د داسې لمونځ کولو څخه ځان ساتل پکار دي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : «تِلْكَ صلاة المنافق، تلك صلاة المنافق، تلك صلاة المنافق، يَرْقُبُ الشَّمْسَ حتى إذا كانَتْ بَيْنَ قَرْنَي شيطان قَامَ فَنَقَرَهَا أربعاً لايذكر فيها إلا قليلا»

يعني : دا د منافق لمونځ دی ، دا د منافق لمونځ دی ، دا د منافق لمونځ دی چې سړی ناست وي د لمر انتظار کوي تر څو ښه زیړ شي او د شیطان د دوه ښکرو په منځ کې راشي - نو پاڅي څلور تونګې ووهي او په دې کې الله ډیر کم یاد کړي.

و ما توفيقي الا بالله عليه توكلت واليه انيب

الله تعالی دې اول زما لمونځ اصلاح کړي بیا د ټولو مسلمانانو د چا چې لمونځ سم شو د هغه دنیا او آخرت سم شول.

سجدة السهوه (د سهوې سجده)

سهوه په لغت کې هېرېدلو ته وایي او د فقهاؤ په اصطلاح هغه عمل چې په لمانځه کې د پیدا شوي خلل د پوره کولو په موخه د لمانځه په آخر کې ادا کیږي د سهوې سجده بلل کیږي.

هغه صورتونه چه سجده سهوه لازمیږي .

۱- د لمانځه له واجباتو څخه په هیره سره کوم واجب پاتي شي لکه الحمدلله ،تشهد یا جلسه مگر که قصداً ترک شي لمونځ فاسدیږي په سجده سهوه نه پوره کیږي .

وفي الواجب إن ترك ساهياً يجبر بسجدتي السّهو، وإن ترك عامداً لا (هنديه) .

۲- د کوم واجب په ادا کولو کې تاخیر یا ځنډ راشي (دومره ځنډ چه په څومره وخت کې یوه رکوع یا سجده کیدای شي) که په هیره سره وي یا څه فکر کولو

کولو لکه د الحمدلله څخه ورسته د سورت په ضم یا پیوسته کولو کې سړی خاموش ودریږي د څه ځنډ ورسته سورت شروع کړي .

۳- د کوم فرض په ادا کولو کې تاخیر راشي مثلاً د سورت څخه ورسته ځنډ وشي ورسته له څه ځنډ څخه رکوع وکړي .

۴- کوم فرض دوه ځلي ادا شي مثلاً په یوه ځل دوې رکوع وکړي .

۵- د څه واجبو کیفیت بدل شي :

الف) په کومو لمونځو کې چه په خفیه سره سورت لوستل کیږي هغه د امام له خوا په زوره وویل شي یا د ورو ویلو پرځای په زوره وویل شي که پدې سلسله کې پوره سورت وویل شي یا دومره چې په څومره وخت کې یوه رکوع یا یوه سجده کیدای شي نو پدې صورت سجده سهوه لازمیږي .

ب) دفرضو په اولو دواړو رکعتو کې یا یو رکعت کې سورت هیر شي نو که څلور رکعتي لمونځ وي نو په آخري دوو رکعتونو کې یې ویل پکار دي او ددي ترتیب بدلیدو په وجه سجده سهوه لازمیږي .

د سجده سهوي کولو طریقه :

په آخري ناسته کې د تشهد څخه ورسته به یواځي ښی طرف ته سلام گرځول او ورسته دوي سجدي کول او بیا تشهد ، درود او دُعا ویل او د سلام گرځول .

د جومات ادبونه

۱- جومات ته د ننوتلو په وخت کې باید اول ښۍ پښه وړاندې شي او دا دُعا وویل شي: اَللهُمَّ افْتَحْ لِی اَبْوَابِ رَحْمَتِیکَ (ای الله ! زما پر مخ د خپل رحمت دروازې پرانیزه) .

۲- د جومات له ننوتلو تر کیناستو مخکې دوه رکعته تحیة المسجد لمونځ کول پکار دي ،د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی (په تاسې کې چې څوک جومات ته ولاړشي ترڅو یې چې دوه رکعته لمونځ نه وی کړی تر هغې دې نه کښینې) (بخاری او مسلم) .

۳- د جومات څخه د وتلو په وخت کې به اول چپه پښه وړاندې کوئ او دا دُعا به وایی: اَللهُمَّ اِنِّی اَسْئَلُکَ مِنْ فَضْلِکَ

(ای الله ! زه له تا نه ستا د فضل او کرم غوښتونکی یم) .

۴- په جومات کې د زیات نقش او نگار کوښښ کول نه دي پکار.

۵- جومات ته په داسې حال کې تلل چې اوږه،پیاز،تنباکو او نور بد بویه شی یې خوړلی وي تلل مکروه دي لومړی دې خپله خوله وویځي بیا دې مسجد ته داخل شي .

٦- په جومات کې خبرې کول ،شورماشو کول او اخیستل او خرڅول مکروه دي له بده مرغه زمونږ د هیواد په ډیرو برخو کې چې ژمی شي او خلک وزګار شي نو بیا په جومات کې خپل بندارونه کوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : څوک چې په جومات کې خبرې کول پیل کړي ،نو ملائکې په لومړی ځل ورته وایي (اُسْکُتْ یَا وَلِیَ الله) یعنی ای د الله دوسته ! چوپ شه ،که بیا خبرو ته دوام ورکړي ،نو ملائکې ورته وایي (اُسْکُتْ یَا بَغِیْضَ الله) چوپ شه ای د الله دوښمنه ! که بیا هم چوپ نشي نو په دریم ځل ملائکې ورته وایي (اُسْکُتْ لَعْنَتُ الله عَلَیْکَ) یعنی چپ شه د الله (جل جلاله) لعنت وي پر تا .

همدارنګه په مشکوة شریف کې د شعب الایمان په حواله یو روایت راغلی چې جناب رسول الله ﴿صلی الله علیه وسلم﴾ فرمایي : په آخیره زمانه کې به داسې خلک پیدا شي چې جومات ته به راځي ،هلته به ډلې ډلې کښیني او دنیاوي خبرې به کوي تاسې له داسې خلکو سره مه کښینئ ،ځکه چې الله تعالی ته په جومات کې د داسې خلکو ضرورت نشته (عمدة الاحکام ص ۷۵) .

ابن همام رحمه الله وایي په جومات کې دنیاوی خبرې نیکی داسې له منځه وړي لکه وچ بوټي چې اور خوري (فتح القدیر) .

۷- په جومات کې په اوچت آواز لمونځ کول نه دی پکار ځکه چې د نورو د لمونځ د اخلال سبب ګرځي او د نورو په لمانځه کې اخلال ګناه ده .

۸- د جومات دوازه تړل نه دي پکار که د سامان د غلا خطر وي نو په هغه وخت کې یې تړلی شي چې د لمانځه وخت نه وي .

۹- جومات ته د جنوب ،نفاسې او حائضې ننوتل ګناه ده .

۱۰- په جمات کې لاره جوړل ناجایز دي که سخت ضرورت وي نو باک نلري .

۱۱- په جومات کې چې کوم ځای خالي وي هلته کیناستل په کار دي د خلکو په اړو تیریدل ګناه ده .

۱۲- په پښو پوری که څه خټی نیښتې وي مخکی له ننولو جومات هغه وینځل پکار دي .

۱۳- په جومات کې د ننه آذان ویل مکروه دی .

۱۴- جومات ته د داسې ماشومانو بول چې د متیازو حال نشي ویلای یا داسې بې عقل او لیونی چې په پاکی او ناپاکی نه پوکیږي ننول پکار نه دي .

داسې ماشومان چې د لمانځه سن ته نه وي رسیدلی د لمونځ کونکو د آزار سبب ګرځي .

او هغه چې جومات یې تلل مشروع وي د جومات اهل باید پر هغوی سخت ګیري ونه کړي

(اسلامي فقه ،فتاوی اسلامیة ،عمدة الاحکام ،فتاوي المحودي حنفي)

د قضایي لمانځه کفاره څه ده

د لمانځه پریښودل بغیر له قضائي کومه بله کفاره نه لري یو خو د مړی وصیت دی چې فدیه به ورکوي هغه خو بله موضوع ده .

په دې اړه جناب نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایي :

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِك رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم قَالَ: «مَنْ نَسِيَ صَلاَةً فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَهَا، لا كَفَّارَةَ لَهَا إِلا ذَلِكَ:]وَأَقِمِ الصَّلاَةَ لِذِكْرِي[».

(بخاری:597)

(له انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمایي : هر چا چې لمونځ هیر کړ نو هر وخت چې ور په یاد شو د هغه قضایي به راوړي ، ځکه د لمانځه ترک (بغیر له قضایي) بله کفاره نه لری . الله تعالی فرمایي لمونځ زما د یاد په وخت ادا کړئ).

فتاوي دارالعلوم دیوبند او کفایت المفتي لیکي :

که د یو کس څخه ډیر لمونځونه قضا شوي وي او وروسته توبه وباسي نو دده یوازې توبه کافي نه ده بلکې د ترک شویو لمونځونو قضایي به هم راوړي .

قضایي راوړل داسې چې که یې شمیر معلوم وي نبه او که یې شمیر معلوم نه وي د بلوع د وخت نه به پخپل غالب ګمان هغه وشمیري د لمانځه قضایي بغیر له مکروه وختونو نور هر وخت ادا کولای شي .***(فتاوي دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۲۳۵۰ - کفایت المفتي ج ۳ ص ۳۷۷).***

د قضایي لمانځه نیت

نیت کوم د زړه د اخلاصه لمونځ کوم دوه رکعته فرض د سهار په دا حاضر وخت د ماسپښین خاص خداي تا لره مخ مي دي وه طرف ته د قبلی شریفي الله اکبر

چې د هر وخت لمونځ در څخه قضا سوي وي د سهار پر ځاي د هغه وخت او د هغه شمیر ووایاست او قضا سوي لمونځ چې پر هر روا وخت باندي کوي د هغه وخت نوم ذکر کوي.

ماخذونه

ددي کتاب ټوله معلومات د مختلفو او مختصره کتابونو څخه راټول شوی دي چې په لاندي ډول دي.

1 القرآن الکریم
2 شرط الصلوة
3 البخاري شریف
4 دعوت السلام
5 اسلامي فقه
6 صحیح مسلم حدیث
7 فقه السلام وادله
8 الدر المختار
9 مراقي الفلاح
10 متفق علیه
11 dawat610.com
12 Islamic World
13 RTA Islam

د دين ستنه

د اسلامي معلوماتو ټولګه

د اسلام د دين دوهمه بناء



وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلاَتِهِمْ يُحَافِظُونَ ، أُوْلَئِكَ فِي جَنَّاتٍّ مُكْرَمُونَ

ژباړه: هغه کسان چه دوی د خپل لمانځه ساتنه کوي دغه کسان به په عزت سره د جنت په باغونو کې اوسيږی